**ترکيه او اروپايي اتحاديه؛ هغه له سپکاوي ډک موقف چې وځنډېږ**



**(ژباړه)**

د اروپايي اتحاديې هسته د تېرې پېړۍ د پنځوسمې لسيزې په اوږدو کې د څو دولتونو په يوځای والي سره رامنځته شوه، چې وروسته د وخت په تېرېدو له هغې سره د اوسنۍ اروپا يو شمېر غربي او شرقي ملاتړي دولتونه يو ځای شول او اوسمهال يې د غړو شمېر ۲۸ هېوادونو ته رسېدلی دی او دغه هېوادونه تر اوسه واحده ايډيالوژي، واحد دين، ارزښتونه او موخې لري او تر دې مهاله هيڅ اسلامي هېواد له دغې اتحاديې سره نه دی يو ځای شوی.

همداراز د اروپايي اتحاديې هېوادونه داسې قوانين او پاليسۍ لري چې د دغې اتحاديې پر ټولو غړو پلي کېږي. په دغې اتحاديه کې داسې بنسټونه او سازمانونه جوړ شوي چې پر غړو هېوادونو برلاسي دي. د اروپايي اتحاديې قوانين او پاليسي پر ۲۸ غړو هېوادونو لازمي دي او دغه قوانين د اروپايي پارلمان نومي بنسټ په واسطه تصويب کېږي. د دغې اتحاديې د هېوادونو اړيکې د هغې اساسي قانون او نور قوانين جوړوي، چې د پارلمان اتحاديه يې تصويبوي. اروپايي اتحاديې د تېرې پېړۍ د نوييمې لسيزې په اوږدو کې د «ماستريخت» په تړون کې يو لړ ګامونه واخيستل او د اقتصاد، سياست، امنيت، دفاعي چارو او پولي واحد په برخه کې يې د خپلو غړو لپاره هر اړخيز قوانين جوړ کړل، چې تر اوسه هم د دغه تړون قوانين د پلي کېدو وړ دي.

په حقيقت کې د لومړي خليج جګړه وه چې دغه تړون ته يې هيلي راوټوکولې، په ځانګړې توګه هغه څه ته چې د امنيت، دفاع او پولي واحد له موضوع سره يې تړاو درلود؛ ځکه نږدې وه چې امريکا د لومړي خليج له جګړې

وروسته نړۍ تر خپل نفوذ لاندې راوستلې وه او د ځمکې اوسېدونکي يې خپل غلامان ګرځولي وو. په هغه وخت کې د «ماستريخت» تړون اروپا ته يوه حياتي موضوع وه. په همدې دليل فرانسه او آلمان د دغې اتحاديې د قوي غړو هېوادونو په توګه لاس په کار شول او اساسي قانون يې وضع کړ، چې د دغې اتحاديې ټولو غړو هېوادونو ته د دفاعي او اقتصادي قوانينو په برخه کې ګډ او لازمي و او هغو ته په لاس رسي سره دغه اتحاديه ورځ تر بلې ځواکمنېده. اساسي قانون او نورو تقنيني اسنادو د ځواکمنو هېوادونو (فرانسې او المان) په ګډون د اتحاديې ټول هېوادونه په چټکۍ سره ونيول؛ په ځانګړې توګه کله چې انګليس له اروپايي اتحاديې بېل شو.

په اتحاديه کې فرانسه او المان ځکه تر ټولو ځواکمن هېوادونه دي، چې که له اتحاديې څخه يې جلا کړو، نو داسې هېوادونه نه پاتې کېږي چې پرې حساب شي؛ بلکې يوازې هغه خلک به پاتې شي چې قوانين پرې تپل شوي او د هغو د نه منلو توان هم نه لري. په اروپايي اتحاديه کې په غالب ګومان فرانسه او المان قوانين جوړوي او پاتې غړي هېوادونه بايد هغو ته ژمن وي. زموږ د ادعا دليل دا دی، چې کله د دغې اتحاديې يو شمېر غړي هېوادونه د اروپا په وروستي اقتصادي کړکېچ کې زيانمن شول او حل لاره يې ورته د دوی د غوښتنې خلاف وضع کړه. نو بلژيک، يونان او انګليس په دغې اتحاديه کې هېڅ واک نه درلود، هغه دولتونه چې اروپايي اتحاديه رهبري کوي فرانسه او المان دي او د دغې اتحاديې داخلي او بهرنۍ سياست د همدې دوو هېوادونو په لاس کې دی.

ترکيه په اروپا کې يوازنی اسلامي هېواد دی. که څه هم ترکيه پر ځان بسيا جغرافيوي موقعيت لري او همدا هېواد دی چې اسيا له اروپا څخه جلا کوي؛ خو د دې خاورې يوه کوچنۍ برخه په اروپايي لويې وچې پورې تړلې ده. ترکيه ډېر نفوس لري او د وګړو د شمېر پر اساس د اروپا له لوی هېواد يعنې المان سره برابر دی او د اوبو د سرچينو د صادراتو له مخې د نړۍ تر ټولو غني هېواد بلل کېږي. همدارنګه د خپل صنعتي او زراعتي اقتصاد په ډولونو کې ځانګړی هېواد دی. دا د دې لپاره څرګندوم چې د ترکيې سياسيون د هغو امکاناتو او برکتونو خلاف چې الله سبحانه وتعالی دغې خاورې ته ورکړي، تل په ذليلانه ډول هڅه کوي چې خپل هېواد له اروپايي اتحاديې سره يوځای کړي؛ لکه څنګه چې څو ورځې وړاندې اردوغان په ډېرو عاجزانه او له ذلت څخه په ډکو الفاظو سره ــچې تمايل هم ورته لري ـ څرګنده کړه: «ترکيه له ۵۰ کلونو راهيسې د خپل غړيتوب د منلو لپاره د اروپا دروازو ته په تمه ده.» همداراز اردوغان له رومانيا څخه اروپايي اتحاديه په خطاب کې وويل: «ترکيې په برياليتوب سره ټول هغه شرطونه پرځای کړي، چې اروپا پرې ايښي و؛ خو اروپا اوس هم د دغه هېواد غړيتوب نه مني؛ باور وکړئ په دليل يې نه پوهېږم، چې څه شی دی؟!» خو د فرانسې ولسمشر ماکرون داسې وويل: «د ترکيې غړيتوب بايد هېر کړو.» خو د ترکيې ولسمشر اردوغان اوس هم د نړيوالو او اروپايي اتحاديې په مخ کې په ذلت سره ټينګار کوي چې اروپايي اتحاديه يې د هېواد غړيتوب ومني.

د ترکیې سیاستوال په ځانګړې توګه اردوغان د ترکیې په ارزښت او هغو امکاناتو چې الله سبحانه وتعالی پر دغې خاوره لورولي، نه پوهیږي. ته به وایې اردوغان نه پوهېږي چې په ترکیه کې حکومت کوي که په سومالیا کې؟! دا ټول ذلتونه یې منلي او نه پوهیږي چې د ترکیې ستونزه جغرافیوي او تاریخي ستونزه نه ده، بلکې د ترکیې ستونزه د خپلو حاکمانو د حاکمیت په کمزورتیا کې ده. اوسنۍ ترکیه چې د اروپایي نقشو او پالیسیو د پلي کېدو لپاره هر ډول رول لوبوي او ورته ژمنه ده؛ همغه د «سلیمان قانوني» او «محمد فاتح» ترکیه ده؛ هغه کسان چې اردوغان یې خپل اجداد بولي؛ په داسې حال کې چې د قانوني او فاتح په وخت کې به د اروپا اتلان د ترکیې له وېرې لړزېدل. کله به چې د دوی خلیفه د مبارزې لپاره لښکر په شور یا سرې سینه تیارولو، اروپایانو به د دوی د لښکر پر وړاندې د مقابلې او درېدلو خوب هم نه لیدو او چا به چې د دوی له لښکر سره د مقابلې تصور وکړ، په رواني ناروغۍ به یې تورناوه او ورته ویل به یې چې باید تداوي شي.

هغه ترکیه چې اردوغان یې له اروپایي اتحادیې څخه د غړیتوب د تر لاسه کولو په لټه کې دی، همغه ترکیه ده چې خلیفه یې هغه ننداره منعه کړ چې غوښتل یې پکې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د خونې سپکاوی وکړي. له هغې وړاندې «درېیم سلطان سلیم» په فرانسه کې د ښځو او نارینه وو ګډه نڅا هم منعه کړې وه، که څه هم چې فرانسه یې هغه مهال په واک کې نه وه. نننۍ ترکیه همغه د پرونۍ ترکیه ده –له همغې ځمکې، اوبو او جغرافیوي موقعیت سره- یوازې کوم شي چې په ترکیه کې بدلون کړی د هغې حکام دي او که سلطان قانوني او محمد فاتح راوګرځي، په یقیني توګه چې ترکیه به همغه شان او دبدبه یو ځل بیا پیدا کړي.

په ریښتیا چې د ترکیې اوسني حکام له اروپایي اتحادیې سره د یو ځای کېدو لپاره تر خپلو هر څه تېر شول؛ خو اروپایي سیاسیونو (فرانسې او المان) یې له پوره غړیتوبه ډډه کوي او د اروپایي اتحادیې ډالۍ د ترکیې لپاره یوازې په نظامي مسایلو کې د ترکیې د شریکولو موافقه او ژمنه ده او کله چې اروپا د دې اړتیا ویني، نو د ترکیې وروستی سرتېری هم جنګوي؛ لکه څنګه چې ترکي سرتېرو د ناټو د تړون پر اساس د خپلو ورونو پر وړاندې د افغانستان په جګړه کې ګډون کړی دی.

موږ د اروپایي اتحادیې او اردوغان تر منځ د خبرو اترو پر ناکامۍ خوښ یو، ځکه که په اروپایي اتحادیه کې د ترکیې غړیتوب ومنل شي، له خپل اهل، تاریخ او د خپلې خاورې له جغرافیې څخه به پردۍ شي او د وخت په تېرېدو به خلک له دغې اتحادیې سره محبت پیدا کړي او ځانونه به د اروپا لویې وچې یوه برخه بولي او د هغوی له فرهنګ څخه به اغېزمن شي، چې په دې مسله کې ډېره شر نغښتی دی. خو اروپا نه غواړي چې ترکیه ورسره یو ځای شي او دا یې یو غوڅ دریځ دی؛ لکه څنګه یې چې په کراتو دغه موضوع تکرار کړې ده. خو اردوغان نه غواړي دغه موضوع واوري، اروپایان اجازه نه ورکوي چې د ترکیې د اتیا میلیونه مسلمانانو په یو ځای کولو سره د

اروپا د اوسېدونکو جوړښت تغیر کړي. موږ هم له الله سبحانه وتعالی غواړو چې ترکیه له اروپایي اتحادیې سره یو ځای نشي؛ ځکه که دا ډول وشي، طبعي ده چې د ترکیې فوځ به د وخت په تېرېدو سره هغه فوځ وي، چې په هره هغې جګړه کې چې د کفارو او مسلمانانو تر منځ پېښیږي، د مسلمانو ورونو پر وړاندې به جنګیږي.

نو له الله سبحانه وتعالی غواړو چې ترکیه او فوځ یې همغه لومړني حالت ته وګرځوي او د دوی د دین او عقیدې په واسطه دوی ته عزت ورکړي، چې د نبوت پر منهج د خلافت سیاسي نظام پلی کړي.

**سرچینه: الرایه جریده**

**لیکوال: استاد خالد اشقر (ابو معتز)**

**۲۰۱۸م، د فبرورۍ ۲۱مه**

**ژباړن: منصور دریځ**